د غوره اړيکو معنی



کله دې چې د زړونو د خپلولو هوډ وکړ، بايد ويې پيژنې

په ياد ولره چې انسان د منطقي په پرتله زيات عاطفي دی

که غواړې نور خلک وپيژني، لومړی ځان وپيژنه

ځه غواړې؟

ځه شي ته پام کوې؟

په ځه شي خوشاليږې؟

په ځه شي غوسه کيږې؟

ځه وخت هو کوې، او ځه وخت نه؟

نور هم ستا په شان دي، ځه چې پر تا اغيز کوي، پر هغوی يې هم کوي

خپل ځـــان وپيژنـــــــه

له نورو د څه شي هيله لرې؟

- چې درناوی دې وکړي
- ستا په اهميت پوه شي
- ستا په رايه او فکر پوه شي
- ستا ګټې او ليوالتيا په پام کې ونيسي

خپل ځـــان وپيژنـــــــه

څه شي ته پام کوې؟

خپلو مادي او معنوي ګټو ته

خپل ذوق او غوښتنو ته

د اړیکو پیـــــــــــــل



د خپل ځان، ګټو او ذوقونو له چوکاټه ووځه

که ودې ویل لومړی زه، در ته وبه ویل شي، نه زه

که ودې ویل ړومبی ته، در ته وبه ویل شي، او ته هم

زړونو ته اســـــــــــــــانې لارې

1 درناوی او ستاینه

مونږ د مشرانو او لوړپوړو احترام کوو ځکه چې مهم دي

په نړۍ کې داسې څوک پیژنې چې ځان ور ته غیر مهم ښکاري؟

د نورو اهمیت ومنه، ستا به هر څه ومني

زړونو ته اســـــــــــــــانې لارې

2

زغم، تیریدنه، او د نورو له پاره عذر لټول

خلک په داسې تیروتنو ولې ملامتوې چې ممکن له تا څخه هم تر سره شي

خپلې تیروتنې کوچنۍ ګڼو او عذرونه ور ته لټوو،
مګر د نورو تیروتنې غټې او د نه بخښلو وړ ګڼو

د تیروتنې سمونه اسانه وګڼه او له تیروتنې سره سره پر تیروتونکي خپل باور وساته

زړونو ته اســـــــــــــــانې لارې

3

د بل پر نظر ځان پوه کړه

هر شخص تل باوري وي چې دی په حقه دی او نظريات يې منطقي دي

که له چا سره په رايه کې مخالف شوې او باوري هم يې چې
د هغه رأيه ناسمه ده، بيا هم د هغه پر نظر د ځان پوه کولو هڅه وکړه

د نورو د نظرياتو سپکاوی هغوی سرتمبګۍ ته اړ کوي

زړونو ته اســـــــــــــــانې لارې

4

تل له نورو سره ګډې نقطې لټوه

د ملګرو تر مینځ همیشه ګډې نقطې شتون لري، له همدغو ګډو نقطو پیل وکړه او د اختلاف پر ټکو ترکیز مه کوه

د خپلو ګټو په اړه مه غږیږه، د ګډو ګټو په هکله وغږیږه

زړونو ته اســـــــــــــــانې لارې

5

په حقيقت ولاړه ستاينه

- که يو څوک هر څومره بد هم وي، يو داسې صفت خامخا لري چې د ستايلو وړ وي.
- په نورو کې مثبت اړخ لټوه او ستاينه او مننه يې زياته کوه
- دا ټول کارونه له زړه څخه کوه تر څو په منافقت بدل نه شي

زړونو ته اســـــــــــــــــانې لارې

6

د نورو غوره صفات مخاطب وګرځوه

غوره ځانګړتياوې د طمعې او ګټو تر خاورو لاندې کيږي، مګر ورکيږي هيڅکله هم نه

په شخص کې د هغه انساني اړخونه مخاطب وګرځوه، ښايي تر هغه يې غوره ومومې چې ته يې هيله لرې

تر څو دا کار له زړه او اخلاصه و نه کړې، نه شې کاميابيدای ځکه چې د دروغو منزل لنډ وي

زړونو ته اســـــــــــــــــانې لارې

7

له چا سره چې ګورې، نوم يې په ياد لره

دا چې مونږ ته تر ټولو غوره نوم د هغه چا دی چې په هنداره کې يې وينو(ځان) نو،

د نورو نومونه هم په ياد لره او په خبرو کې يې ور ته اخله، ښايي له دې کبله در سره له مينې ډک چلن وکړي

زړونو ته اســـــــــــــــانې لارې

8

خوله له موسکا ډکه ساته

موسکا هغه نخښه ده چې په چوپه خوله نور پوهوي چې ته ور سره مینه لرې او درناوی یې کوې

موسکا ستا د خوښۍ پر وخت ښه کار ده، مګر د غم پر وخت دې خورا ښه کار ده

موسکا د ګټې پر وخت ښه ده، مګر د زیان پر وخت ډېره ښه ده

موسکا د راکړې پر وخت ښه ده، مګر د ورکړې پر وخت خورا غوره ده

د خبرو او قناعت ورکولو چلونه

خبرې د اړیکو لومړنۍ وسیله ده

چې د خبرو هنر دې زده وي، ښې اړیکې جوړولای شې او څه چې غواړې تر لاسه کولای یې شې

د «زه» کلمه ده چې خلک یې ډیره تکراروي او زیاتره خبرې هم د دې په اړه وي، نو که غواړې چې پر نورو اغیز وښندې، دا کلمه هغوی ته ور پریږده

د خبرو، او قناعت ورکولو چلونه

غږېدل لږ کوه، اوربدل ډېر کوه،
او نورو ته په پوره پاملرنه غوږ ږده!

1

- هر مفهوم په لږو خبرو کې وړاندې کیدای شي.
- چې خبرې اوږدیږي، تیروتنې یې زیاتیږي.
- د اوریدونکي پام تر لږو شیبو وي، تر هغې وروسته به بیا ځان سره خبرې کوي.

کله چې غږیدونکي ته په داسې توګه غوږ ږدې چې هغه در باندې پوه شي چې ستا ور ته پام او ور سره همغږی یې، هغه به ستا د خوښولو او ستا په لږې وینا د بسوالي هڅه کوي.

د خبرو، او قناعت ورکولو چلونه



2 له جنجال او خبرو تاوولو څخه ډډه وکړه

خبرې تاوول او جنجال هغه بايللې جګړه ده چې هيڅوک يې نه شي ګټلی

کله چې بلې غاړې په جنجال لاس پورې کړ، بيا پربکنده او قانع کوونکي دلايل څه ګټه نه کوي.

د دې له پاره چې عادي خبرې اترې جنجال ته وا نه وړي، له بل لوري سره په يوازيتوب کې خبرې کوه.

د خبرو، او قناعت ورکولو چلونه

3

د مطلق حقیقت ټیکه دار له ځان مه جوړوه

- خپلو رأیو ته د قوانینو او مقدساتو حیثیت مه ورکوه
- ان که مفهوم صحیح هم وي، په وړاندې کولو کې یې تیروتنه شونې ده.
- ګڼ شمیر افکار او رأیې چې یو وخت ور ته خلکو د حقیقت په سترګه کتل، اوس څرګندې تېروتنې ګڼل کیږي.

د خبرو، او قانع کولو چلونه

4 په خبرو کې نرمې جملې کاروه

په خبرو کې د مننې، مبارکۍ، همدردۍ څرګندونې، او بخښنې غوښتنې ټکي د بل لورې په زړه مثبت اغیز کوي.

د خبرو اغیز د ډیرو وړو زیاتونو له لارې زیاتیدای شي:

نرمه خبره ← مننه

نرمه او اغیزناکه خبره ← ډیره مننه، ستاسې له مرستې څخه

د خبرو او قناعت ورکولو چلونه

5

نور پریږده چې ستا په افکارو ځان سینګار کړي

که غواړې چې افکار دې ژوندي پاتې شي، د نورو په ذهن کې يې په داسې ډول ځای په ځای کړه چې هغوی فکر وکړي دا فکر د هغوی د ذهن تولید دی

د خپل فکر، جوړونکي عناصر ورکړه او وروستۍ بڼه يې هغه بل کس ته پریږده

د خبرو او قناعت ورکولو چلونه

6

په خپلو تیروتنو اعتراف وکړه او د ځان د سپيناوي هڅه مه کوه

د ځان د سپيناوي تر ټولو غوره لاره په خپله تیروتنه اعتراف کول دي

په تیروتنه ستا قناعت کول ستا د زورورتوب دلیل دی، او دا هم یو حقیقت دی چې خلک له زورورو سره مراعات کوي

د خبرو او قناعت ورکولو چلونه

بل لوری د"هو" کلمې ویلو ته وهڅوه

7

موضوع د داسې پوښتنو په بڼه مطرح کړه چې ځواب یې هو وي

کله چې بل لوری څو واړې د "هو" کلمه تکرار کړي، له تا سره د بشپړ اتفاق احساس ور سره پیدا کیږي

څنګه کولای شي نور ستا د خوښې کار کولو ته قانع کړي؟

1 بله غاړه له کار سره مینې ته وهڅوه

په هغو ګټو ټینګار وکړه چې د کار له لارې تر لاسه کیږي

کار تر وسه وسه ګټور وګرځوه

کوچني کار ته په ستر اهمیت قائل شه

څنګه کولای شي نور ستا د خوښې کار کولو ته قانع کړي؟



په کار کې تل ننګونو ته ځای ورکړه

د کارکوونکو تر مینځ د سیالۍ سپرغۍ ځای په ځای کړه

د خپلو هیلو کچه ورو ورو لوړه کړه

د لاسته راوړنو تخته وځړوه